HUMAN RIGHTS WATCH & MEDIA ORGANIZATION

# [مطبوعاتي اعلامیه]

**کابل – افغانستان**

**نیټه: ۴/۰۹/۱۴۰۰**

**د ښځو پر وړاندې له تاوتریخوالي سره د مبارزې ۱۶ ورځنی نړیوال کمپاین په داسې حال کې په ټوله نړۍ کې نمانځل کېږي چې د افغان ښځو حقوقه په نا مالوم لوري روان دي.**

دا کمپاین یو نړیوال کمپاین دی چې د نومبر په ۲۵ پیل کیږي او د دسمبر تر ۱۰ پورې دوام کوي. خلک، ډلې، د ښځو د حقونو بنسټونه او دولتونه د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي دغه ناوړه پدیدې ته د ټولنې او نړۍ پام را اړوي. د لومړي ځل لپاره، د نومبر ۲۵، ۱۹۶۰ د "ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو نړیوالې ورځې" په توګه وټاکل شوه او د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو لپاره " راځئ چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو لپاره سره یو شو" تر شعار لاندې کمپاین پیل شو. د دې کمپاین په پیلولو کې، هر کال یوه مرکزي موضوع ټاکل کیږي ترڅو د کمپاین فعالیتونه د ټاکل شوې موضوع په شاوخوا کې ډیزاین او پلي شي.

WHMO یا د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره، په ملګرو ملتونو او د ښځو پر نړیوالو سازمانونو غږ کوي چې سږنی کمپاین دې افغان ښځو او نجونو ته وقف کړي او د هغوی له لاسه وتلي حقونه دې په دغه کمپاین کې خپله مرکزي موضوع وګرځوي. په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی، جبر او ناحقه غوښتنو ته د رسیدو ګواښونه تر ټولو لومړی د ښځو د انساني کرامت له پامه غورځول دي، چې تل یې ښځې او نجونې له ځانه بې باوره کړي او انزوا ته یې اړې کړې دي. سربیره پردې د ښځو او نجونو په رواني او فزیکي وړتیا منفي اغېزه کوي. په افغانستان کې ښځې او نجونې له خپلو ټولو حقونو، د زده کړې له حق څخه نیولې بیا د کار حق او همدا شان د ښځو او نجونو نور بشري او مدني حقونه تر جدي خطر لاندې دي. مونږ په اسلامي امارت هم غږ کوو چې ښځو ته د اسلام د سپېڅلي دین سره سم ټول حقونه ورکړي. ځکه چې ښځې د ټولنې نیمه برخه جوړوي او په ټولنه کې د ښځو له پراخ شتون پرته مونږ پرمختګ نه شو کولای.

دا په داسې حال کې ده، چې په اوسنیو حالاتو کې؛ د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړل او په افغانستان کې په یوه آرمان بدله شوېده چې افغان ښځې او نجونې اوس مهال خپلو لومړنیو حقونو ته لاسرسی نه لري.

اړیکه:
,ولي احمد شیرزاد، د بشري حقونو او رسنیو د څار ادارې د رسنیو مشر
د اړیکو شمېرې: 775732475 (0) 93+
برښنا لیک: media@whmo.org